د افغانستان اسلامي جمهوريت

د پوهنې وزارت

د ننګرهار ولايت د پوهنې رياست

د بهسودو د پوهنې آمريت

مقام خان لېسه

# دولسم ټولګي لپاره د کمپيوټر مضمون سوال او ځواب

Ketabton.com

ترتيب او برابرول : بهادرزمان (منيب)

(c) ketabton.com: The Digital Library

لمړی پوښتنه: انټرنټ څه شی دی؟

ځواب: یوه نړیواله شبکه ده چې په میلونونو کوچنۍ شبکې یې سره تړلي دي،کارونکو ته دا وړتیا ورکوي چې معلومات یو بل سره تبادله کړي.

دوهمه پوښتنه: د انټرنټ شبکه د لومړي ځل لپاره په کوم کال کې او د څه لپاره رامنځ ته شوه؟

په ۱۹۶۹ م کال د امریکا متحده ایالاتو لخوا د یوې کمپیوټري شبکې د ایجاد په موخه رامنځ ته شوه تر څو د روسیي د زره وي احتمالي بریدونو مخنیوی وکړي.

دریمه پوښتنه: په ویب کې معلومات څرنګه لټوئ؟

د لټون ماشین (search engines) په واسطه لکه ګوګل او داسي نور..

څلورمه پوښتنه: د لټون د ماشین او لړلیک ترمنځ توپیر څه دی؟

د لټون ماشین په مرسته له هر ویب سایټ څخه لټون کیږي خو لړلیک د کټګورۍ په بنیاد په اړوند سایټ کې لټون کوي.

پنځمه پوښتنه: د انټرنټ بنسټیز خدمتونه کوم دي؟

1. بریښنا لیک
2. د فایل د لیږد پروتوکول(FTP)
3. پراخ نړیوال ویب (WWW)
4. د سملاسي مسجونو لیږل (instant messaging)
5. له لرې لاسرسې ( Telnet)

شپږمه پوښتنه: FTPڅه شی دی او په کومو چارو کې ترې ګټه اخیستل کیږي؟

FTP داسې میکانیزم دی چې لوی حجم لرونکي فایلونه د یو کمپیوټر څخه بل ته پرته له ځنده لیږدوي.

اوومه پوښتنه: د بریښنالیک په اړه درې کرښې ولیکئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

برښناليک ترټولو مشهور او معمولو انټرنيټي خدمتونو څخه ګڼل کيږي.

برښناليک موږ ته دا شونتيا راکوي چې ليکونه،انځورونه ،ويډيوګانې او نور معلومات سمدلاسه پرته له ځنډه د انټرنيټ له لارې واستوو،د استولو لپاره يې کمپيوټريا موبايل ته له انټرنيټ وصل وي ضرورت دی.

اتمه پوښتنه: Telnetڅه شی دی او په کومو حالاتو کې ترې ګټه اخيستل کيږي؟

ټلنيټ داسې پروتوکول دی چې د هغې په واسطه موږ کولای شو له لرې څخه پر کمپيوټرونو لاس رسي پيدا کړو لکه له خپل کور څخه د پوهنتون له مرکزي کمپيوټر سره وصل کيدل.

.نهمه پوښتنه: نړی پراخه ويب څه شی دی او په انټرنټ کې څه رول لري؟

د برښنايي سندونو او مدارکو ټولګه ده چې د ويب پاڼو په نوم ياديږي او يو له بل سره وصل دي.

لسمه پوښتنه: نړیٔ پراخه ويب په کوم کال کې او چيرته رامنځ ته شو؟

په ۱۹۸۹م کال کې د اروپا د زروي فزيک ازموني له خوا په سويس کې جوړ شو.

.يوولسمه پوښتنه: نړیٔ پراخه ويب ته په ۱۹۹۳ کال کې د کوم شخص لخوا پراختيا ورکړل شوه؟

تملي برنر لخوا

دولسمه پوښتنه: په نني ژوند باندې د کمپيوټر د اغيزو په اړه څو کرښې وليک؟

کمپيوټر په اصل کې په نړیٔ کې لوی ټيکنالوژيکي بدلون رامنځ ته کړی دی.کمپيوټر د انسانانو سره مرسته کړی ده چې د صنعت،سوداګری ، اړيکو ،معلوماتو د راکړې ورکړې د پرمختيا په اړه اغيزمن ګامونه پورته کړي دي.

ديارلسمه پوښتنه:  د ژوند د هغو ساحو نومونه واخلئ چې کمپيوټر پکې پراخې اغيزې لري؟

سوداګري،لوبې،معلومات او اړيکې،د زده کړې سيستم او نظامي سيستمونه.

څوارلسمه پوښتنه: په سوداګری کې د کمپيوټر د اغيزو په اړه لند تشريحات ورکړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

که چېرې خپل چاپېریال ته وګورو نو پوه به شو چې نږدې ټولې سوداګریزې چارې د کمپیوټر پر مټ ترسره کیږي ،په ځینې چارو کې یې ان  د بشري ځواک د راکمېدو سبب هم ګرځېدلې دی.

پنځلسمه پوښتنه: د برېښنايي سوداګرۍ په اړه خپل معلومات ولیکئ؟

د انټرنیت او کریډیټ کارتونو په واسطه اخیستل او خرڅول د برښنایي سوداګرۍ څخه عبارت دي.چې د سوداګرۍ په چارو کې یې اسانتیا رامنځ ته کړې ده.

شپاړسمه پوښتنه:  په لوبو کې د کمپیوټر رول بیان کړئ؟

په لوبو کې هم د کمپیوټر د ګرافیک او انمیشن څخه استفاده کیږي چې په لوبه ګرافیک او او انیمېشن ډېر مهم رول لري.

اووه لسمه پوښتنه:  د معلوماتو او اړیکو ټینګولو په برخه کې د کمپیوټر اهمیت بیان کړئ؟

ډېر مهم دی کمپیوټر په نني عصر کې، د معلوماتو په لټون کې د کمپیوټر څخه استفاده کیږي او د انټرنېټ سره د کمپیوټر  په وصل کولو کولای شو چې له نورو سره اړیکې ټینګې کړو.

اتلسمه پوښتنه:  برېښنالیک څه شی دی؟ ګټې یې بیان کړئ؟

د اړیکو ټینګولو وسیله ده چې نن ورځ په پراخه توګه په کار وړل کیږي.

نولسمه پوښتنه:  په زده کړه کې د کمپیوټر د اغیزو په اړه لنډ تشریحات ورکړئ؟

کمپیوټر د زده کړو سیستم هم ترخپل  اغېز لاندې راوستې دی،ځینې سافټویرونه د ښوونځیو زده کوونکې استعمالوي ،ځینې بیا ښوونکې استعمالوي،په انلاین زدکړو کې هم مهم رول لري،ان د پوهنتون محصلین او استادن هم د کمپیوټر ځینې انلاي او افلاین پروګرامونه استعمالوي.

شلمه پوښتنه:  په نظامي سیستمونو کې د کمپیوټر د ګټې اخیستنې په اړه څو کرښې ولیکئ؟

د کمپیوټر د اختراع څخه تر نن پورې پرمخ تللي هیوادونه د کمپیوټر څخه په نظامي برخو کې استفاده کوي،لکه په نظامي ښنتو،د دښمن د موضع ګانو په موندنه،نظامي جګړو،تر سمندر لاندې د نظامي کښتیو په کنټرول،د بې پیلوټه الوتکو په کنټرل او داسې نور..

یوویشتمه پوښتنه: په روغتیایي سیستمونو کې د کمپیوټر رول په لنډه توګه بیان کړئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډاکټران د ناروغانو د معلوماتو د ساتلو لپاره کمپیوټر استعمالوی،د ناروغانو نسخې په کمپیوټر ترتیب کوي،درملتونونه د کمپیوټر څخه استفاده کوي.

دوه ویشتمه پوښتنه: برېښنايي حکومت څه ډول دی او ګټې یې بیان کړئ؟

د یوې انټرنیټي شبکې او یو انټرنیټي مرکزڅخه ګټه اخیستنه یو برښنايي حکومت جوړوي او د حکومت بیلابېلې څانګې یو له بل سره ونښلوي،۲۴ ساعته خدمات وړاندې کوي،فزیکي شتون ته اړتیا نه لیدل کیږي.

څلورویشتمه پوښتنه پوستغالي څه شی دي او په څو برخو وېشل شوي دي؟

هغه وسیله ده چې د کاروونکي کماندونه هارډویر ته لیږدوي او درې ډوله دي:

1. سیستم سافټویر
2. اپلیکېشن سافټویر
3. پروګرامینګ سافټویر

پنځه ویشتمه پوښتنه : عامل سیستم څه شی دی او دندې یې څه دي؟

عامل سیستم یو سافټویر دی چې د هارډ ویر سره اړیکه ټینګوي او نورو پروګرامونو ته د چلولو اجازه ورکوي لکه:ویندوز اکس پي،ویندوز اووه،ویندوز لس او نور..

دندې یې:

1. د سرچینو سمالښت.
2. د کمپیوټر او استعمالونکي ترمنځ اړیکه رامنځ ته کول.
3. د کاریالي سافټویرونو چلول.

شپږویشتمه پوښتنه: د کاریالي پوستغالو څو بیلګې بیان کړئ؟

کاریالي پوستغالي عبارت دي له : اکسل،ورډ،پاورپاینټ او نور..

اووه ویښتمه پوښتنه: کمپیوټري ویروسونه څه شی دي؟ د څو بیلګو نومونه یې واخلئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

واړه پروګرامونه دي چې د پروګرام جوړوونکي لخوا جوړ شوي دي تر څو خلکو ته ستونزې راولاړې کړي. لکه خوځنده ویروسونه،بدلیدونکي ویرسونه،او نور..

اته ویشتمه پوښتنه: ویروس څرنګه کمپیوټر او فایلونو ته ننوځي؟

د ککړو شبکو،فلاپي ککړو ډیسکونو،ککړو فلشونو ،برښنالیکونو او انټرنیټ له لارې ننوځي.

نهه ویشتمه پوښتنه: کمپیوټر او فایلونو ته د ویروس له ننوتلو څخه څرنګه مخنیوی کولی شو؟

د ویروس ضد پروګرامونه انسټالوو، Anti Spyware (جاسوسی ضد) پررګرام نصبول هم اړین دی

دېرشمه پوښتنه: د کمپیوټر د داخلی برخو نومونه واخلئ؟

1. اصلي بورډ (Mother Board)
2. ورکړیزه برخه(Input Unit)
3. راکړیزه برخه (Output Unit)
4. پروسیسور (Processor)
5. زېرمه (Storage)

یودېرشمه پوښتنه: اصلي زیرمه څه شی ده؟ د هغه د کار کړنه بیان کړئ؟

اصلي زېرمه هغه زېرمه ده چې معلومات په مؤقت ډول ساتي،کله چې یو کار ترسره کوو په کمپیوټر په اصلي زېرمه یا رم کي کي په موقت ډول ساتل کیږي.

دوه دېرشمه پوښتنه: اکسل څه ډول پروګرام دی؟ لنده توضیحات ورکړئ.

د مایکروسافټ آفس پروګرامونو له جملې څخه یو پروګرام دی د مایکروسافټ لخوا جوړ شوی دی.

دري دیرشمه پوښتنه: له اکسل څخه په کومو ځایونو کې ګټه اخیستل کیږي؟

د مالي محاسباتو، د عوایدو او لګښتونو د تنظیم،د چارټونو جوړلو،د ریاضي د محاسباتو او نورو لپاره استعمالیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلوردېرشمه پوښتنه: د څو هغو ګټو او اړتیاوو چې په اکسل کې موجود دي او د مایکروسافټ په نورو پروګرامونو کې موجود نه دي، نومونه ولیکئ؟

ډېر کماندونه دي چې په اکسل کې شته خو په نورو پروګرامونو کې نشته د بېلګې په ډول: د ریاضیکي عملیو ترسره کول،جمع ،منفي،تقسیم،فورمولونه،فارمولا باراو داسې نور..

پنځه دېرشمه پوښتنه: د کاري پاڼې سلونه ولې فارمټ کوو؟,طریقه یې څه شی ده؟

د معلوماتو او محاسباتو د ښه ښودلو او وړاندې کولو لپاره له فارمټ یا چوکاټ بندی څخه استفاده کوو. طریقه یې : په اړوند سل باندې ښي کلیک او د Format Cell په ټاکلو سره د format cells پاڼه خلاصیږي.

شپږدېرشمه پوښتنه: څو ډوله عمل کوونکي پېژنئ؟

څلور ډوله:

1. فیصدي(٪)
2. توان (^)
3. ضرب او تقسیم(×÷)
4. جمع او تفریق(+ -)

اووه دېرشمه پوښتنه: پرتلیز عمل کوونکي کوم دي او په کومو چارو یا ځایونو کې ترې ګټه اخیستل کیږي؟

دا عمل کوونکي د دوه مقدادرونو ترمنځ د پرتله کولو شونتیا وړاندې کوي او په لاندې ځایونو کې ورڅخه استفاده کیږي:

= (مساوي) ، > (کوچنی) ، < (لوی) ،≥ (لوی یا مساوي)، ≤ (کوچنی یا مساوي) ≠ (نامساوي)

نهه دېرشمه پوښتنه: نسبي او مطلقه پته لیکنه څه توپیر لري؟ بیان یې کړی.

په نسبي پته کې د سلونو (cells) پتې تغیر کوي خو به مطلقه پته کې بیا د سلونو (cells) پتې تغیر نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شلوېښتمه پوښتنه:  یوه افقي یا عمودي لکه څنګه له منځه وړئ؟

انتخابوو یي ښي کلیک وربانديې کوو د ډیلیټ کوچنی مینو له لارې یې ډیلیټ کوو.

یوشلوېښتمه پوښتنه:  یوه افقی یا عمودي لیکه څنګه پټوئ؟

د اړوند لیکي له ټاکلو وروسته لاندې طریقه ترسره کوو:

Format>>Row>>Hid      یا Format>>Column>>Hide  له لارې کولای شو دا چاره  ترسره کړو.

دوه شلوېښتمه پوښتنه:  د یوه نوي سل او عمودی یا افقي لیکي د ور زیاتولو پروسه بیان کړئ.

د  Insert cell کلیک کوو د  Insert کوچنی مینو خلاصیږي بیا نو که عمودی یا افقی لیکه غواړې اخیستلای یی شو.

دري شلوېښتمه پوښتنه:  کاري پاڼه او د سل (Cell) ادرس تعریف کړئ.

کاري پاڼه(Worksheet) د عمودي او افقي لیکو مجموعه ده چې هر کاري کتاب دريې داني کاري پاڼې لري،او سل د عمودي او افقي خطونو د تقاطع څخه عبارت دی.

څلورشلوېښتمه پوښتنه:  څرنګه کولای شئ د یوې پټې نښې زیاتي او یا کمي کړئ؟

د وسایلو په هر پټه باندې کلیک کول>> یا له  View مینو څخه  Toolbars انتخابول.

پنځه شلوېښتمه پوښتنه:  Formula Barڅه شی دی؟ او Name Box څه دنده لري

Formula Bar د فورمولونو د لیکلو ساحه ده او  Name Box د سلونو (Cells) نومونه ښایي.

شپږشلوېښتمه پوښتنه:  د ورکړیزي ډیټا د ډولونو نومونه واخلئ؟

١.  عددي ډیټا ،   ٢.  متني ډیټا،   ٣. نیټې دوله ډیټا،   ۴.  وخت دوله ډیټا.

اووه شلوېښتمه پوښتنه:  د شمېرو ډیټا تعریف او وواياست چي کوم نور ډولونه معلومات عددي ځانګړتیا لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

له صفر څخه تر نهو (۰-۹) شمېرو ته او همدارنګه ٪ ()... $ دغه نښې عدي ډيټا ګڼل کيږي او د وخت ورکړيز ډيټا عددي ځانګړتيا لري.

اته څلوېښتمه پوښتنه: غږيزې او انځوريزې ډيټا ګانې له نورو ډيټاګانو سره څه توپير لري؟ په لنډه توګه يې توضيح کړئ؟

فرق يې دا دی چې نورې ډيټاګانې د اکسل په سلونو کې ځای پرځای کيږي خو انځوريزې او او غږيزې ډيټاګانې په سلونو کې نه ځای پرځای کيږي بلکه د سلونو د پاسه ځای نيسي او معلومات پټوي.

نهه څلوېښتمه پوښتنه: توضيحي يادښت (Comment) څه شی دی؟

کمنټ د اضافي معلوماتو د ورکولو په معنا ده،نو به اکسل کې که يو سل اضافي معلوماتو ته اړتيا ولري نو ددې کمانډ څخه استفاده کوو.

پنځوسمه پوښتنه: مايکروسافت اکسل ۲۰۰۳ له ۲۰۰۷ ورژن سره څه توپير لري؟

۲۰۰۳ اکسل زوړ ورژن دی ځينې کمانډونه پکې شتون نه لري خو ۲۰۰۷ نسبت ۲۰۰۳ ته نوی ورژن دی ځينی افشنونه او کمانډونه پکې نوی دي.

يوپنځوسمه پوښتنه: مايکروسافت پاورپاينټ څه ډول پروګرام دی؟

پاور پاينټ د مايکروسافټ آفس پروګرامونو له جملي څخه يو پروګرام دی چې د پريزيټېشن او انيمېشن لپاره استعماليږي.

دوه پنځوسمه پوښتنه: پاورپاينټ پروګرام څو ګټې بيان کړي چې د افيس د ټولګې په نورو پروګرامونو کې شتون نه لري؟

سلايډ شو(Slide Show) انيمېشن (Animations) ټرانزيشن (Transition) په نورو پروګرامونو کې نشته.

دري پنځوسمه پوښتنه: له پاور پاينټ پروګرام څخه په کومو ځايونو کې ګټه اخيستل کيږي؟

د پريزينټېشن په يو فايل کې تغيرات راوستلای شو،سلايډونه پکې جوړولای شو،پريزينټېشن پکې جوړولای شو موضوعات که تعليمي وی او که تجارتی پکې جوړيږي.

څلورپنځوسمه پوښتنه: د سلايډ او پريزنټيشن ترمنځ توپير څه شی دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلاید د پریزینتېشن برخه ده پریزینتېشن د سلایډونو مجموعې ته ویل کیږي.

پنځه پنځوسمه پوښتنه: په سلاید کې انځور څرنګه اچوو؟

د Insert مینو څخه Picture انتخابوو From file باندې کلیک کوو دخپلې خوښې انځور ټاکو او د Ok بټن کیکاږو.

شپږپنځوسمه پوښتنه: د انځور د راوړلو لپاره څو لارې چارې شتون لري؟

دوه طریقې دي:

1. له کلیپ ارټ څخه .
2. د خپلې خوښې له فایل څخه

اووه پنځوسمه پوښتنه: آیا په سلاید کې د چارټ راوړل شوني دي، څرنګه؟

هو شوني دي :

Insert>>Chart د Insert مینو څخه Chart افشن ټاکو .

اته پنځوسمه پوښتنه: اینمیشن څه شی دی او څرنګه په سلاید کې ترسره کېږي ؟

انیمېشن په انځور یا متن کې حرکت راوستلو ته وایې په لاندې طریقه کولای شو:

Slide show>>custom animation>>Add Effect>>Start>>Dicrection>>speed

نهه پنځوسمه پوښتنه: آیا په سلایډونو کې د غږ اچول یا د غږیزو او ویډیویي فایلونو راوړل شوي دي؟

هو شوني دي ،موږ کولای شو چې غږیز او ویډیویي فایلونه په سلاید کې راولو.

Insert Menu>>Movie & Sounds>>Sound From File له لارې کولای شو.

شپېتمه پوښتنه: سرپاڼه او پای پاڼه ولې او څرنګه په سلایډ کې اچوو؟

سرپاڼه او پای پاڼه د تکراري معلوماتو لکه نوم ،تیټل صفحې نمبر او نورو لپاره د پاڼې په سراو پای کې وجود لري :

طریقه: View>>Header & Footer باندې کلیک کوو مینو راڅرګندیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوشپيتمه پوښتنه: ويب پرانيستونکی څه شی دی او په انټرنټ کې څه رول لوبوي؟

ويب پرانيستونکی يا ويب بروزر داسې سافټوير دی چې د ويب له سرويس ورکوونکي کمپيوټر سره اړيکه ټينګوي او ګټه اخيستونکی ته د نوموړی کمپيوټر څخه ګټور معلومات وړاندې کوي. په انټرنيټ کې د يوزير او مربوطه کمپيوټر ترمنځ اړيکه جوړوي.

دوه شپيتمه پوښتنه: څو ډوله ويب پرانيستونکي پيژنئ ، نومونه يې واخلئ؟

په انټرنيټ کې د ويب پرانيستونکي په لاندې ډول دي:

1. Intertnet explorer
2. Mozila Firefox
3. Avant Browser
4. Google chrome
5. Opera
6. Slim Browser

دري شپيتمه پوښتنه: تر ټولو مشهور ويب پرانيستونکي کوم دي، نومونه واخلئ؟

IE, Mozilla او Google Chrome مشهور ويب پرانيستونکی دي.

څلورشپيتمه پوښتنه: د IE او FireFox ويب پرانيستونکو ترمنځ څه توپير وينئ ، بيان . کړئ؟

دا دوه ويب پرانيستونکي سره ورته کار کوی کوم توپير نه لري.

پنځه شپيتمه پوښتنه: د Search،Forward,History او Backward بټنو دندې شرحه کړئ؟

Backward (شاتګ) ، لټون (Search) مخکې تګ (Forward) تاريخچه بنايي(History)

شپږشپيتمه پوښتنه: د ويب پته (URL) څه شی ده او له څو برخو څخه جوړه شوې ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

په انټرنیټ کې د پاڼو ځانګړې ادرس دی چې څلور برخې لري :

1. دقلمروډول(.com)
2. د قلمرو نوم (google)
3. د سرویس ډول(www)
4. د ویب د ګټې اخیستنې پروتوکول(HTTP)

اووه شپیتمه پوښتنه: عمل کوونکی څه شی دی:

عمل کونکې یا Operators داسې شیان دي چې د عددي مقادیرو پرمخ باندې عمل کوي لکه فیصدي،توان،ضرب او تقسیم،جمع او تفریق.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**